د افغانستان اسلامي جمهوریت

د لـــــــــــوړو زده کړو وزارت

نـــــــــــنگرهار پوهنتون

د ژبـــــــو او ادبیاتو پوهنځی

# موضوع: میاعلي صاحب پېژندنه او د هغه زیارت

Ketabton.com

ترتیب کوونکی: شاهین شاه (میاخېل)

لارښود استاد: پوهاند فضل ولي (ناګار)

کال:.................................................................... ۱۴۰۰ هـ ش

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د عنوانونو لړلیک


عنوان مخ

سریزه ........................................................................................... الف

د میاعلي صاحب پېژندنه ........................................................................ ۱

د میاعلي بابا ملګري او د کراماتو د پیل ښه .................................................. ۲-۳

د میاعلي صاحب شاګردان ........................................................................ ۴

د میاعلي صاحب فرزندي لور....................................................................... ۵

د میاعلي صاحب جومات ........................................................................... ٦

د میاعلي صاحب زیارت ........................................................................ ۷-۸

د میاعلي صاحب ملاقات د حذر(ع) سره ........................................................ ۹

د هغه لېونیانو کیسې چې د میاعلي صاحب په زیارت کې ښه شوي دي ................ ۱۰-۱۱

په پښتو ادب کې د میاعلي صاحب د زیارت یادونه ........................................... ۱۲

پایله ............................................................................................. ۱۳

مآخذونه........................................................................................... ۱۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سریزه

دا چې د د لوړو زده کړو د قانون له مخې د لسانس دورې په پای کې د هر محصل ذمه داري ده، چې مونوګراف ولیکي، نو زما لپاره د (میاعلي صاحب پېژندنه او زیارت) تر عناون لاندې موضوع د استاد پوهاند فضل ولي ناګار په لارښوونه د اړوندې څانګې له لورې راوسپارل شوه، دا چې دغې موضوع ته زما د خپل نسب له سببه پام ورواوخته، نو محترم استاد د خپل صوفیانه مزاج له مخې راسره تفاهم وکړ، ومې غوښتل چې په خپل یو ناڅیز زحمت سره د پښتو ادب دغه تشه ډکه کړم.

زه د خپلې لیکنې څخه راضي یم او د ځان لپاره یې بریالی هڅه بولم، خو ورسره خواکې خپل د لارښود استاد پوهاند فضل ولي ناګار څخه ډېر منندوی یم،چې په خپلو نیکو مشورو یې زما د مونوګراف معلومات لا غني کړل او په تشویقي لحاظ یې دا ویاړ راوبخښه، تر څو یو شخصیت په تاریخي او ادبي بڼه راژوندی کړم.

د لسانس دا څلور کلنه دوره ډېره خوندوره وه، خو که چېرې مې خپل مونوګراف د میاعلي صاحب پېژندنه او زیارت تر عنوان لاندې نه وی لیکلی، نو داسې به راته برېښېده چې د څلورو کالو له حاصل څخه بې برخې پاتې یم او د دې خوند څکه مې هم نه وي کړي، په پوره باور سره دا ویلی شم، چې د راتلونکي نسل ادیبان او د میاعلي بابا اولاده به زما دغه کوچنۍ هڅه ډېره وستایي، آن تر دې هم چې په راتلونکي کې به دا رساله د نورو لیکوالو لپاره د معلوماتو په پوره کولو کې مرسته وکړي.

په درنښت

شاهین شاه میاخېل

(c) ketabton.com: The Digital Library

موخې

۱.لوستونکو ته د میاعلي صاحب پېژندنه.

۲.د میاعلي صاحب له کراماتو د خلکو خبرول.

۳.د میاعلي صاحب په زیارت کې د لېونیانو د حال څخه د لوستونکو خبرول.

۴.د میاعلي بابا په هکله د ولسي خلکو کیسي.

۵.د میاعلي صاحب د نورو کرامت لرونکو ملګرو څخه د لوستونکو خبرول.

کړنلاره:

په دغه څېړنه کې له ساحوی میتود څخه ګټه اخېستل شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د میاعلي بابا پېژندنه

میاعلي صاحب چې اصلي نوم یې سید محمد علي شاه، چې مشهور په میاعلي صاحب و،چې په ۱۰۰۴ هـ ش کال زېږېدلی او په ۱۰۷۵ کې وفات شوی. د غه مالومات د میاعلي بابا د قبر په کتبه واضح لیکل شوي او نور مالومات مو د ځایي اوسېدونکو له خولې راجمع کړي.

میاعلي بابا له غزني څخه د ننگرهار ولایت کامې ولسوالۍ ته راغلي و، هلته یې د اخوند نعیم صاحب شاگردي کړې او له هغه څخه یې دینې زده کړې کړي. بیا له کامې څخه د ثمر خېلو سیمې ته راغلي و. نو دلته خانان اوسېدل، بیا دغو خانانو د میاعلي بابا د تقوا، کرامت او ولایت په اعزاز هغه ته ځاي ورکړ او څه موده وروسته یې په صدقه کې ورته ځمکې ورکړې، چې هغه ټولې ځمکې اوس د زیارت، جومات او د بابا د کور برخه ده، چې فرهنگي او تاریخي میراث بلل کېږي.

د خلکو د خولې وینا ده، چې میا ښه سړي ته ویل کېده. ویل کېږي چې میاعلي بابا دوی درې وروڼه وو، چې د یو ورور زیارت یې د پېښور په نوښار کې موقیعت لري او د کاکا صاحب د زیارت په نوم شهرت لري. د بل ورور زیارت یې په سوات کې دی، چې د پیر صاحب د زیارت په نوم شهرت لري.

میاعلي بابا څلور زامن او یوه لور درلوده، چې دوه یې ذاتي لېونیان او دوه یې روغ وو، چې عاشق بابا او فارق بابا نومېدل.عاشق بابا د پاکستان سند ته مهاجر شوی و او هلته بیا شهېد شو، چې زیارت یې تر اوسه موجود دی. د فاروق بابا قبر او ورسره یې د خور قبر د میاعلي بابا د قبر ترڅنگ په کوچنۍ هدیره کې شتون لري. دا چې موږ هم د میاعلي صاحب اولاده کې راځو، زموږ په کور کې زما د نیکه په لاس لیکل شوې د میاعلي صاحب د نسب اړوند یوه شجره چې تر موږ رارسېږي موجوده ده، دغه پخوانۍ شجره مې د انځور په بڼه په مونوگراف کې هم ځای کړې ده، په دې شجره کې زما د پلار تر نومه لیکنه شوې،چې په دغه ډول ده:

میا احمد شاه، میاظاهر شاه، میابرهان شاه، میا معصوم شاه، میامعین شاه، میابرهان صاحب، میاعباس صاحب، میافاروق صاحب او میاعلي صاحب، داسې هم ویل کېږي چې دغه شجره تر سید محمد یوسف دهلوي یورې رسېږي، چې په دې ډول ده: میاعلي صاحب، میانورمحمد صاحب، خلیفه محمد درېش صاحب، میا عبدالصمد صاحب، میا عبدالسمیع صاحب، میا عبدالعزیز صاحب، میاعبدالقیوم صاحب، میا محمد نعیم صاحب، میاعبدالسلام صاحب، میامحمد فقیر صاحب، میا عبدالجلیل صاحب، میا عبدالرحمن صاحب، سید محمد عارف صاحب، سید محمد کریم صاحب، سید محمد سمیع صاحب، سید محمد امین صاحب، سید محمد باشي صاحب، سیدم حمد ظریف صاحب، سید محمد مصري صاحب، سید مصرفاني صاحب، سید محمد گېسودارصاحب او سید محمد یوسف حسیني دهلوي صاحب.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس مهال د میاعلي بابا هغه کوټه چې دی پکې اوسېده شتون لري، دا کوټه ډېره زړه او پخوانۍ ده، چې یو فولکلوریک شکل لري او همدلته یې یو زېړرنګ پخوانی د اوبو څښلو جام هم موجود دی، چې ځایي اوسېدونکي یې د لرې پرتو سیمو څخه راغلو سیلانیانو ته د اعزاز په خاطر ښیي او سیلانیان پکې اوبه څښي. میاعلي بابا درې ملګري درلودل، چې ملګرو یې هم کرامتونه درلودل او د خدای ولیان و.

۱ـ میاجي بابا، چې د شېنوارو میا ګان ورته منسوبېږي او زیارت یې د پاپین صاحب د زیارت په نوم شهرت لري.

۲ـ ډولکي بابا، چې زیارت یې د ننګرهار ولایت مرکز جلال اباد ښار مستوفیت څلور لارې ترڅنګ دی.

۳ـ ګردي غوث بابا زیارت چې په مومند دره کې شتون لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د میاعلي بابا ملګري او کراماتو د پیل پېښه

میاعلي بابا درې ملګري درلودل،چې عبارت دې له میاجي بابا، ګردي غوث بابا او ډولکي بابا، چې د میاعلي بابا په کور کې به دېره وه.

د ګردي غوث بابا سره د میاعلي بابا لومړی ځل کتل: کله چې میاعلي بابا د کامې څخه ثمرخېلو ته راغی نو هلته یې په پټو کې د دهقانۍ په کارونوځان بوخت کړ،سره له دې چې ډېر تقوادار او پرهېزګار بنده و او د آخوند نعیم صاحب بند اولاد او د اولاد د ژړا ځېل اجازې وکړې،په کلي کې یې دغه دم دعاګانې کولې،خو ورسره یې د بزګري یې هم پرمخ وړله، د بزګرۍ په دې موده کې یې یوه ورځ له پټي څخه وابنه یا ګیله ویستله او خپل ساعت یې پرې تېرولو،چې به دې وخت کې پرې ګردي غوث بابا مخ ته ورغی،دا چې ګردي غوث بابا د خدای ولي او ډېر په زړه نرم انسان وو،په میاعلي بابا یې زړه د کار په کولو زړه خوږ شو،ورته یې وویل چې دې ګیاه ته امر وکړه چې د خدای په قدرت سره ووځي  نو میاعلي بابا ورته وخندلې،بیا یې ورته وویل چې ګیاه څنګه په خبره وباسم که په خبره ګیاه وځي نو ته یې وباسه چې زه تا وګورم، په دې خبرې اورېدو سره ګردي غوث بابا ګیاه ته اکر وکړ چې د خدای په حکم راووځه نو ګیاه سمدستي له ځمکې څخه راووتله،میاعلي بابا ورته وویل چې ولې دې داسې وکړل ما خو د ګیا په ویستلو سره خپل ساعت تېرولو او زما د ساعت تېرۍ کار دې راخراب کړ،اوس بېرته راته دا ګیاه په خپل ځای کړه. ګردي غوث بابا چې ګیاه ته د بېرته په خپل ځای کېدو امر وکړ نو ګیاه یې په خبره نه شوه او خپل ځای ته رانغله،ورپسې میاعلي بابا همدې ګیاه ته امر وکړ چې بېرته پخپل ځای شه او کیاه دوهم ځل لپاره د میاعلي بابا په امر او د خدای په حکم پخپل ځای شوه.

له دې وروسته میاعلي بابا پخپل وجود کې د ولایت د رڼا په څراغ پوه شوی،بیا ورته ګردي غوث بابا ویلي چې ستا د لمسو قلنګ زما په لمسو شو.

اوس چې د میاعلي بابا د اولادې څخه کوم کس ګردي غوث بابا سیمې ته لاړ شي او هغه خلک یې وپېژني چې دا د میاعلي بابا د لمسیانو څخه دی نو حتما ورته ممپلي،چهارمغز،چاکلیټ،بوره او یا هم وچ چای د شکرانې په ډول ورکوي.

« د میاعلي بابا دوهم ملګری ډولکي بابا:ډولکي بابا به د جمعې لمونځ څخه مخکې ذکر کولو او ډېر چې په ذکر کولو کې ګرم راغی نو ډول به یې هم غږولو او ذکر به یې کاوه.

د ډولکي بابا په دور کې ی سړي قسم کړی وو چې زه به د جمعې په په کعبه کې لمونځ کوم نو کله چې جمعه شوه او سړی نه شي کولای چې کعبې ته ځان ورسوي،نو میاعلي بابا ته راغی او همدا کیسه یې ورته وکړه،هغه ورته وویل چې زه درته ځای ښیم خو هېڅ څوک به نه خبروې سړي وویل سمه ده  میاعلي بابا ورته وویل کله چې د جمعې ورځ شوه او ډولکي بابا ډول وهل شروع کړل نو ته به یې په لستوڼې پورې ځان ونښلوې،کله چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لستوڼی د ډول سره ولګېد نو ته به لستوڼی خوشې کړې نو دا لستوڼی دا وخت د کعبې له دېوال سره لګېږي او لمونځ دې وکړه او بېرته دېوال ته متوجه شه چې کله دې لستوڼی تر سترګو شو بېرته به یې ونیسې او کله چې بیا د لستوڼی د کعبې له دېوال نه لرې شو خوشې یې کړه، نو سړې همداسې وکړل او خپل قسم یې په دا ډول پوره کړ.

کله چې سړی بېرته راغلی ګوري چې ډولکي بابا ورته په ځیر سره ګوري او په قهر دی،سړی ته یې وویل،چې دا راز درته چا ویلی،خو سړي حال ونه ویلو،خو کله چې یې ډېر مجبور کړ نو سړي ورته د میاعلي بابا نوم واخېست،نو له دې وروسته ډولکي بابا په دې پوه شوی چې میاعلي بابا هم د خدای ولي دی،خو په دې کار سره د میاعلي بابا څخه خوابدی شوچې ولې یې زما د ذکر او جذیې راز ښکاره کړ،نو میاعلي بابا ته یې ښېراوې وکړې،چې خدای دې د ده زیارت د لېونیانو ډک کړې چې اوس وخت ک همداسې شوي او بیا یې ورته د لېونیانو اجازه هم ورکړه.

« د میاعلي بابا درېیم ملګری میاجي بابا: دا د میاعلي بابا نږدې ملګری او د خدای ولي و، د ځایي خلکو په وینا چې میاجي بابا د میاعلي بابا سره ډېرې شپې پاتې کېده،خو کومه شپه یې میاعلي بابا ته د خاصيې شپې د پاتې کېدو خبر ورکړی و ن میاعلي بابا ورته د مېلمه پالنې مناسب تیاری کړی و خو میاجي بابا څخه د راتلو خبره هېره شوې وه او په دې شپه رانغو،میاعلي صاحب تر سهاره ورته انتظار وکړ او ډېر خفه شو،خو کله چې میاجي بابا ناڅاپه د میاعلي بابا خواته راغلی نو میاعلي بابا ورته په قهر سره وویل چې خدای دې زیارت له ښاره ورک کړه،میاجي بابا د بند اولاد او د ماشوم د ځېل دم او دعا تعویذونه کول،یوه ورځ ورته کومه ښځه راغله چې ماشوم مې ځېل کوي او یخني ده ښار ته مو نه شو وړلی ن په تا پسې راغلم چې راسره لاو شې او زما د ماشوم دم او دعا وکړې نو میاجي بابا خو د خدای ولي او پرهېزګار متقي انسان و نو ورسره روان شو کله چې ځای ته ورسېد نو ماشوم یې دم کړ وروسته له دم  یې شپه کړې او په حق رسېدلی بیا د ځای اوسېدونکو هماغلته خاورو ته وسپاره چې دا سیمه شینوارو سیمه وه او زیارت یې هم په شینوارو کې مقیعت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د میاعلي صاحب شاګردان

د میاعلي بابا د شاګردانو په اړه داسې خاص معلومات نشته خو ځایي اوسېدونکو له خولې چې میاعلي صاحب ډېر شاګردان درلودل او ډېر یې روزلي وو، چې د مختلو ځایونو خلک وو او د میاعلي بابا په جومات کې دېره وو، دغه شاګردان بیا د درس د زده کړې په پای کې خپلو کلو ته ستانه شوي دي او داسې خاص معلومات یې په اړه نشته، خو ویل کېږي چې یو شاګرد یې اچیني نومېده، اچیني بابا چې د پاکستان په حیات اباد کې یې زیارت دی، دی د ننګرهار اړوند د شینوارو ولسوالۍ د اچین د سیمې اوسېدونکی وو،او د زیارت اړوند کلی یې اوس هم په اچیني مشهور دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د میاعلي صاحب فرزندي لور

د میاعلي صاحب یوه خپله لور وه خو یوه یې نجلۍ یې فرزندي لور درلوده، دا نجلۍ چې کله پېغله شوه نو کورنۍ یې راغله او د میاعلي بابا په اجازه یې وبوړله، خو هر سهار یې د سبق لپاره رالېږله، د دې نجلۍ د اصلي پلارګنۍ کور د ثمرخېلو ترڅنګ په یو کلي کې و، د دې کلي اوسېدونکي جګ شول او د دې نجلۍ پسې یې خبرې وکړې، بد رد یې ورته وویل اود بدګومانۍ تظاهر یې وکړ، بالاخره دغه نجلۍ یې مړه کړه او د دې کلي څخه یې لرې خښه کړه، خو د دې نجلۍ پاک جسد د میاعلي بابا تر انګړه د خدای په حکم راغی، کله چې میاعلي بابا جسد ولید نو د خدای په حکم د جسد ژبه په خبرو راغله او خپل د بې وسۍ او د خلکو د ظالمانه او اتهامانه چلند کیسه یې وکړه، نو میاعلي بابا دغه جسد د خپل کور په خوا کې خاور ته وسپاره، چې د میا علي بابا د زیارت اړوند کوچنۍ هدیره کې موقیعت لري.

دا چې میاعلي صاحب د خدای ولي وو ډېر خفه شو او د خولې یې ښیرا ووته چې دا کلی دې الله تعالی تباه کړي، څه موده وروسته ټول کلي اور واخېست او ټول کلی وسوځید چې اوس هم دا کلی د سرخ دېوال په نوم یادېږي او د اور سوځېدو نښې نښانې اوس هم پکې شته.

د میاعلي بابا په اړه دا هم ویل کېده چې خپله بې بنیاده وو یعنې اولاد یې نه درلوده، اوسنۍ اولاده یې د همدې فرزندې لور د واده ثمره ده، خو دا خبره د میاعلي بابا سره متعصبین، د کراماتو او ولایاتو خلک یعنې هغه ډلې چې په عیدوي لحاظ دغه شیان نه مني جوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د میاعلي صاحب جومات

د میاعلي صاحب د زیارت ترڅنګ د لمر خاته کینۍ طرف ته یو جومات لیدل کېږي، چې د میاعلي صاحب د جومات به نوم شهرت لري. د دې جومات په اړه ویل کېږي، چې دا جومات اووه سوه کاله تاریخ لري خو اوس پکې بیا د رغونې چارې پیل شوي دي.

دا جومات څکه رغول کېږي چې پخوانی احاطه یې د مقاومت دوام نه درلوده او دېولونه یې د لوېدو په حالت کې وو خو سنتې یې لاړې وې.

دا ځایي خلکو د خولې خبره دا وه، ستنې یې ځکه ولاړې وې چې د پخواني خلکو کمال او هنر اوچت و او د ځمکې لاندې یې د پخسو بیمان یوې ستنې تر بلې ستنې غځولي و او د جومات ګنبزه یې پرې اوچته ټینګه کړې وه،دا حقیقت د جومات د شهیدېدو وروسته رابرسېره شو او اوس د نوي جومات د جوړېدو چارې پکې په چټکې روانې دي.

په دغه جومات کې د راتلونکي لپاره د یوې مجهزې دیني مدرسې لپاره هم امکانات برابر شوي دي، په یاده مدرسه کې به د تدریسي کوټو ترڅنګ د مدرسې د مسوول او د نورو ولایاتو څخه راغلو شاګردانو لپاره د اوسېدو امکانات هم برابرېږي.

د دې جومات په لاندې پوړ(زېرزمینی) کې د اوبو یوه څاه هم شتون لري، چې د خلکو په وینا دا د میاعلي صاحب د لاس نښه ده او خپله یې کیندلې ده، دلته یو بابا د دې څاه په اړه داسې کیسه کوي:

په دې څاه کې یو وخت څه ضروري اجناس لوېدلي وو، نو مور د کلي خلکو یو ځوان ښګته کړ کله چې ځوان ښکته شو چغې یې پیل کړې او ویل یې رسی یعنې پړی راپسې راوغورځوئ چې ببرته مې زر وباسئ مړ کېږم، مور هم همداسې وکړل او ځوان مو بېرته راپورته کړ او کیسه یې داسې بیان کړه، چې د څاه په منځ کې دېر لوی سیند روان دی چې پاکې او ربې اوبه پکې روانې دي، نو د همدې برکت له آمله څاه مو پخپل ځای پرېښوده او مور همدا څاه د دریابي څاه په نوم ونوموله.

د همدې نوي جوړېدونکي جومات په هکله ځایي خلک دا هم وایي چې د جومات لپاره ملا امام، موذن، قاریان او استادان د کلي د ولس په خوښه انتخابېږي او د ولس له لورې ورته معاش ورکول کېږي، دا جومات د حج او اوقافو په ریاست پورې کوم تړاو نه لري او نه ځایی اوسېدونکي داسې کومه اراده لري چې دغه جومات دې په دولت پورې ثبت کړي، د میاعلي صاحب جومات د جوړېدو مصارف د میاعلي بابا اولادې او د همدې کلي اوسېدونکو سره سره د چندې په شکل د بېلابېلو سیمو او قومونو پورې اړوند دي، د دې جومات په انګړ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې لرګي هم موجود و چې د شهید شوي جومات له عمر سره یې تاریخ یو برابر دی، دا لرګي ځکه چا بې ځایه نه کړل چې د جومات مال ګڼل کېده او د اووه سوه کلو راهیسې د خدای په قدرت جوړ پاتي وو، چې د تاریخي نښې په خاطر د نوي جوما ت لپاره یې ورڅخه د جومات دروازې، کړکۍ او الماری جوړې کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د میاعلي صاحب زیارت

دمیاعلي صاحب زیارت د ننګرهار ولایت بهسودو ولسوالۍ د ثمرخېلو په کلي کې موقیعت لري.

د میاعلي صاحب زیارت احاطه تقریبا په دوه جریبه ځمکه کې شوی، چې شااوخوا څلور سوه کاله قدامت لري، دننه پکې د کورنۍ مربوط اتباع دفن دي، چې د قبرونو شمېر یې ځاورویشتو تو رسېږي، چې کوچنۍ هدیره یې بللی شو او ورسره خوا کې تر دوو مترو پورې د خامو خښتو او پخسو کوټې دي،شمېر یې پنځه ویشت کوټو ته رسېږي، چې د زیارت لېونیان پکې تړل کېږي.

پدې زیارت کې ډېرې ونې ښکاري چې پکې ابلېتس تر ډېره تر سترګو کې کېږي خو یوه پخوانۍ ونه یې د غز ونه ده، ویل کېږي چې د میاعلي صاحب د لاس کښېنول شوې ونه ده او څلورسوه کاله تاریخ لري، چې تر اوسه پورې ځوانه ده، او ښاخونه یې لا قوي دي چې د ړنګېدو څه نښې نښانې پکې نه لیدل کېږي، ځایي اوسېدونکي د دې ونې په اړه داسې یوه کیسه هم کوي، چې میاعلي صاحب د دې ونې تر سیوري لاندې ناست وو او د پاس نه ډېر غټ او لوي مار راروان وو، چا په میاعلي صاحب غږ وکړ چې بابا مار راروان دی، بابا چې مار ته ورپام شو نو مار ته یې وویل چې ودرېږه!

مار هم پخپل ځای د غز ونې لاندې برخه کې ساکت شو او ساه ترې ووته، او اوس هم د دې مار د پوستکي نښانې چې د ونې په تنه کې وچې شوي له ورایه ښکاري او سېلانیانو ته د زیارت ځایي اوسېدونکي غټ او واړه دا کیسه ډېر په خوند کوي.

د اوړي په موسم کې د خلکو په وینا چې د کوټوترڅنګ لېونیان د ابلېتس په ونو پورې هم تړل کېږي.، ددې زیارت منجاور بازمحمد نومیږي چې په سترګو ړوند دی او ددې لېونیانو پالنه هم کوي، بازمحمد اکا سره موهم خبرې وکړې او دا ډول یې وویل

((دلته لېونیان راوستل کېږي چې تر څلوېښت ورځو پورې دلته بیا تړل شوي وي، پدې موده کې ورته په یوه شپه او ورځ کې درې وخته د خوراک بندوبست کېږي، چې فقط د نانوایي یوه ډوډۍ او تور مرچ یې خوراک وي، خو په سهار کې صرف یوه پیاله چای اجازه ورکول کېږي او نور له هر څه نه پرهېز وي او د هر لېوني کورنۍ له اتو زرو تر لس زرو روپیو پورې د مصرف په خاطر راکوي))

ددغې زیارت انګړ ته مخامخ دننه د لمر خاته طرف ته د میاعلي بابا مقبره موقیعت لري چې قبر یې په یوه بېسوه ځمکه کې د څلورو دېوالونو او یوې چتې ګنبزې په منځ کې موجود دی او په دغه احاطه کې د میاعلي بابا د مقبرې ترڅنګ د هغه د پلار قبر هم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د میاعلي صاحب په بند کې څلور اجازې دي ـــ ۱:د لېوني ـ ۲:پېرياني ـ ۳:بند اولاد ـ۴:د اولاد ځېل.

په دغه زيارت کې تعويذ ليکوکي ناست وي او عام خلک د لرې پرتو سيمو څخه د دم او دعا لپاره راځي،دغه تعويذ ليکونکي د مياعلي بابا اولادې پورې تړاو لري او بل چاته اجازه نه ورکوي چې زيارت ته راشي ترڅو دغه لار تعقيب کړي. دغه تعويذ ليکونکي د پورته څلورو اجازو لپاره تعويذ ليکي.

تعويذ ليکونکي پخپل منځ کې د تعويذ ليکلو نوبت لري او د مياعلي بابا د دوو زامنو د اولادې ترمنځ دغه نوبت وېشل شوی، چې د کال په اوږدو کې شپږ شپږ مياشتې يې د تعويذ ليکلو موده وي.

د مياعلي بابا زيارت ته رنګارنګ لېوني راځی او تړل کېږي او پدې کې داسې لېوني هم شته چې د شلو کلونو لېوني دي او صحت يې بېرته خپل عادي حالت ته راغلی دی او هر لېونی په مختلف لېونتوب اخته وي لکه: ځنې يې کالي شکوي، ځنې يې ځان سره خبرې کوي، ځنې يې کنځل کوي، ځنې يې په عادي خبره جنجال او ځېل کوي، ځنې يې تيږې واروي او ځنې يې ځان نه ناخبر وي د کلونو خېرن ګرځي او داسې نور....

سره له دې د مياعلي بابا زيارت د سيمې او هېواد د خلکو پام ځان ته را اړولی او په يو توريستي ميراث هم بدل شوی چې سېلانيان ورته وخت ناوخته په عامو او خاصو ورځو لکه د اختر، نوي کال او د جمعې په مبارکه ورځ ورځي او د مياعلي صاحب د مزار زيارت کوي. د مقبرې په سر يې مالګه اېښودل شوې ده چې سيلانيان او زيارت کوونکي دغه مالګه د خوردې په ډول خوري، بيا په مقبرې د رواج له مخې د خپلې وسې صدقه پيسې ږدي او د زيارت شااوخوا مېلې کوي ترڅو خپله ورځ د خپلې کورنۍ د غړو سره په خوندور بنډار او پخلي تېره کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د میاعلي صاحب ملاقات د حذر(ع) سره

دا د میاعلي صاحب د ژوند ډېره مشهوره کیسه ده چې ځایي اوسېدنکي او د میاعلي صاحب اولاده یې زیارت کوونکو او سېلانیانو ته کوي.

کیسه یې دا ډول ده چې، میاعلي بابا د ګرمۍ په سختو ورځو کې د بهسودو ولسوالۍ اړوند کومۍ سیمې ته د ثمرخېلو څخه د جنازې په نیت سفر کاوه نو په لار کې لمر او ګرمۍ وواهه او ډېر تږی شو تر دې پورې چې تندې یې د ژوند حوصله سرته راوړه او د ضعف حالت ته نږدې وو چې د بهسودو سیند نه پورې غاړې ته یې یو کس ولید، نو د دې کس د لیدو نه مخکې میاعلي بابا الله تعالی ته سوال وکړچې د تندې ماتېدو لپاره اوبه راته پیدا کړه، میاعلي بابا د لیدونکي کس په لاس کې جام ولید او د یو غړپ په اندازه اوبه پکې وې، هغه کس خپل جام میاعلي بابا ته ورکړ، نو میاعلي بابا دا غړپ اوبه د ډېرې تندې له امله په تېزۍ سره په سر واړولې او ویې څښلې، د اوبو له څښلو سره د میاعلي بابا حالت عادي شو ذهن یې کار وکړ چې دا خو حذر(ع) دی او ورباندې پوه شو، دا ځکه چې میاعلي صاحب د خدای تعالی ولي وو.

داسې هم ویل کېږي چې د حضرت حذر(ع) د لاس غټه ګوته هډوکی نه لري نو ځایي اوسېدونکي د میاعلي بابا له قوله د حضرت حذر(ع) دا نښه هم تائید کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د هغه لېونيانو کيسې چې د مياعلي بابا په زيارت کې ښه شوي دي

دلته موږ د هغه لېونيانو عجيبه کيسې ذکر کوو چې په همدې مهال دکې ښه شوي اوځايي خلکو په خپلو سترګو ليدلي چې ډېرى جالبې او د عقل څخه لرې دي يعنې ناممکن لېوني ښه شوي دي، له دې کيسې يې پيل کوو.

۱: د مياعلي بابا په زيارت ګې يو لېونۍ هزاره مېرمن پسې مار راغلى وو،مار ورته ويلي و چې زه خو تا خورم، لېونۍ ښځې ورته ورته په ځواب کې ويلي و چې زه تا خورم،خو بالاخره دې ښځې مار ته ناڅاپه لاس وراووړود کړ او مار يې له ستوني کلک راونيو، خپلې خولې ته يې کړ ويې خوړ،د ښځې خاوند دا وليده چې مار يې وخوړ وارخطا شو،د زيارت ميا په هغه شپېه کې ميا محمود شاه نومېده ولاړ و سړى ورغى او دا ټوله کيسه يې ورته وکړه ،ميا خپله دم دعا وويله او په ځواب کې يې دلېونۍ ښځې خاوند ته وويل چې دا به په ۲۴ ساعتونو کې د ښځۍ د اسهال ناروغي شوه نو دا به ښه شي ګنې بيا نه ښه کېږي،خو دا ساعتونه چې ګله په ختمېدو شول نو لېونۍ ښځه په رښتيا هم اسهال شوه او بېرته خپل عادي حالت کې د روغ صحت خاونده شو.

۲:يو بل ځايي اوسېدونکى چې عمر يې تقريبا تر ٦٠ کلونو پورې و،.کيسه يې دا ډول وکړه،چې له نن څخه ۴۰ کاله د مخه زه يو شل کلن ځوان وم،زما مخکې ددې زيارت په شااوخوا کې يوې سپۍ بچې څلور بچي وزېږول، ددې سپۍ بچې چې کله د مياعلي بابا په زيارت کې تړل شوي لېوني وليدل،نو په ورپسې ورغى او د سپۍ ټول بچي يې وخوړل او بېرته دا لېونى روغ شو.

۳: يو بل مشربابا چې زېورشاه نوميږي کيسه يې داسې وکړه،چې د کنړ ولايت څخه يې يو قوي او مضبوط لېونى چې په درې ځوانانو هم نه ودرېده او ځنځيرونه يې شکول خو په ډېر مشکل مو وتړلو،دې لېوني پ زيارت کې ۱۴ ورځې تېرې کړېود لېوني سره يې د تره زامن هم په اصطلاح د پايوازۍ په شکل راغلي و،په ۱۵ مه ورځ يې خپل د تره يو طوى ته غږ وکړ د تره زوى يط هم خواته ورغى،لېوني ورته وويل،چې پاس آسمان او لاندې ځمکه ،چې خداى يو دى او شريک نه لري زه رک روغ شوم خو زما يو ارمان دى چې دا به پوره کوئ،د تره زوى يط ورته وويل چې ووايه څه ارمان دې دى؟

لېوني بيا ورته وويل چې دلته د زيارت اړوند کلي پېغلې او ښځې په زيارت کې تړل شويو لېونيانو ته د خواراک لپاره خوراک او څښاک راوړي او خپله صدقه کوي،نو تاسې به زما لور په همدې کورنۍ کې ورکوئ،چې سبا ورځ زما لور هم د نورو لېونيانو لپاره داډول ډوډۍ پخې او صدقه يې کړيوچې زما لپاره يې هم څه ثواب راورسېږي.

بابا وايي چې د دهمدې لېوني چې روغ شو،لور يې زما مور او پلار زما لپاره راواده کړه،چې اوس مې شکر ډېر اولادنه دي او ما هم د وخت په تېرېدو خپله يوه لور په همدې کورنۍ کې ورکړې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴:د میامقصود شاه په نوم یو سپین ږیری بابا کیسه داسې کوي، د انقلاب وخت و او خلکو یو لېونی د باجوړ ځخه د جوزا په میاشت کې د میاعلي بابا زیارت ته راوست او دې لېوني سره یوه خربوزه هم په لاسونو کې وهچې تقریبا یو من وزن به یې درلوده د زیارت ترڅنګ کښېناستل،بابا ویل چې زه یې د کورنۍ غړو خواته ورغلم او ورته مې وویل چې د تړلو نه یې تاسې خلاص اوسئ زه یې درته ترړم خو پام به کوئ چې تاسې د تړلو په اړه څّونه وایئ او د زیارت اصول مې ورته تول بیان کړل،کله چې دا خبرې مو وکړې زه دلېوني خواته ورغلم ورسره کښېناستم او ورته مې وویل چې څنګه یې؟

لېوني ېواب راکړ،چې خربوزې ته دې چل جوړ کړی ترڅو په همدې چل یط راڅخه وخورې، خو ما ځان غلی کړ،کله چې لېوني ټوله خربوزه وخوړه

ما یې ورونو ته وروکتل، ورونو یې راته په غلي انداز وویل چې ده په مردان سیمه کې یو نفر زندۍ او مړ یې کړ، په  رېا ورخ د خلکو په کورونو ورننوځي او د لېونتوب یې ۱۴ کاله وشول.

بابا وایي کله مې چې دا خبرې واورېدې حیران شوم ځکه چې یو خو لېونی ډېر قوي و او د تړلو په اړه یې اندېښمن شوم ، خو بیا هم څنګ ته یې ورغلم او ورته مې وویل دا  نفر چې له تاسره راغلي دا څوک دي؟ لېوني په ځواب کې وویل چې دا مې دښمنان دي، لېوني ته مې بیا وویل چې څنګ دي خوښه ده دا تول دښمنان دې درته په ځنځیر وترم، لبوني وویل چې خوښه مې ده،ورته مې وویل زه به لومړی تا وترم ترڅو دې دښمان تا وګوري چې ته مې وتړلې بیا به هغوی د خپل ځان د تړلو اجازه راکړي، چې کله مې هغوی ټول وتړل زه به تا ببېرته خوشې کړم او دښمنان به دې ټول تړلي پاتې شي هاهاها

په همدې چل او فرېب مې لېونی وتړلو هههههه

له تړلو وروسته مې ورته وویل چې همدا دې تر ښه کېدو پورې ځای شو، لاس او پښې یې واچولې تر څو ځان خلاص کړي خو ما هم ښه کلک تړلی وو او ځان یې خلاص نه شو کړلی.

په دې کار کولو یې ورونه زما خواته راغلل او راته په ژړا شول او خدایه ته چغې کړې چې یا خدایه یا یې همدلته ښه کړې او یا یې په همدې ځای کې فیصله کړه چې ختم شي، دې خو موږ ډېر وځورولو.

لېونی هم په همدې شېبه کې په ژړا شو او تر ډېره یې ښه وژړل، کله چې کورنۍ غړي یې لاړل نو دې لېوني ډېر جګ اواز درلوده او ټپې ویل یې پیل کړل،چې دشپې تر ۱۱ بجو یې ټپې وویلې.

کله چې سهار شو نو ماته یې غږ وکړ څو خواته یې ورشم، خو زه ترې  ډارېدم ځکه په چل مې تړلی وو داسې نه چې ژوبل مې کړي، خو بیا هم خواته ورغلم او د ورتګ سره یې سم زما لاسونه مچو کړل او په همدې یوه شپه کې د خدای په فضل د ۱۴ کلونو لېونی ښه شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵:د میا احمدشاه په نوم یو سړي دا ډول کیسه وکړه: چې د خپل بابا څخه یې اورېدلې ده، ویې ویل چې د کوزې پښتونخوا د لواړګي سیمې څخه خلکو د نن څخه تقریبا ٦٠ کاله مخکې یوه نجلۍ د میاعلي بابا زیارت ته راوستله، چې لېونتوب یې د ځان د جامو شکول وو او د ۲۰ کالو عمر یې درلوده، دې لېونۍ نجلۍ د تړلو وروسته خپل ځان خلاص کړ او په زیارت کې یوې ونې ته ختلې وه او په ونه کې یې بیا هم خپلې جامې شکولې وې، دغه وخت د نجلۍ سره یې مور، پلار اوماماګان د پیوازانو په ډول راغلي وو، نو کله چې دا نجلۍ یې موروپلار په دې حالت کې بیا ولیده، پلار یې چغې کړې چې حیا،عزت او ابرو مې لاړه، په چغو کې ویل چې ټوپک راوړئ زه مې په همدې ونه کې خپله  لور ولم چې قیصه یې نوره ختمه شي، دغه وخت میا وایي چې بابا مې ورته وویل، خیر دی تاسې لږه حوصله وکړئ،صبر ولرئ، نجلۍ چې په کوم خانښ ناسته وه هماغه خانښ رامات شو او نجلۍ لاندې راولوېده، دې لوېدو سره سم نجلۍ چغې کړې، چې هلئ څادر راکړئ، مور یې ژر خپل څادر ورکړ او ځان یې پکې پټ کړ.

له دې وروسته میا احمدشاه وایی چې زه په زیارت کې ناست یم او دا وخت مې بابا وفات دی، چې زیارت ته یوه ښځه راغله چې د ډېر عمر لرونکې ښځه ده او ظاهرا ښکاري چې د ښه مال او دولت درلودونکې ده، زیارت ته په راتګ هغه ونې ته ګوري په کومه کې چې د خپل لېونتوب په حالت کې ورختلې وه، خو ما دا وخت لا نه وه پېژندلې چې دا هغه ښځه ده، ما ورته وویل چې څه لاړه شه خپل زیارت وکړه،ښځې وویل! بچیه یوه کیسه درته وکړم، ښځې هغه کیسه راته وکړه کومه چې بابا مې راته کړې وه او ویې ویل زه هغه نجلۍ یم کومه چې همدلته خدای ښه کړم او عزت یې راکړ، اوس مې شکر اولاده ده او په پېښور کې مې اولادې ته د بي بي زامن وایي چې د ښه مال او دولت درلودونکي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په اوس وخت کې د میاعلي صاحب لیدنه!

اتیا کلن شیخ فاني کیسه کوي، چې سید راحت شاه یې نوم دی او د میاعلي بابا د اولادې څخه دی، چې په ثمرخېلو کې اوسیږي، وایې: چې د مجاهدینو په دوران کې مې خوب ولید چې میاعلي صاحب مخکې وو او مجاهدین ورپسې وو او د جلال اباد ښار ته ورسېدل نو ما ورته وویل چې څه کوې وا میاعلي صاحبه؟

هغه راته وویل روان یم چې د نظام دفاع وکړم، ما بیا ورته وویل چې دا څه رقم دفاع ده شاته دې ټول مجاهدین دي، میاعلي بابا چې کله شاته ولیدل نو مجاهدین موجود ول، دغه مهال د میاعلي صاحب په لاس کې امسا وه او امسا په لاس یې په مجاهدینو پسې منډې وکړلې، له ښاره تر ثمرخېلو پورې لاړ

مجاهدین مخکې، میاعلي صاحب په هغو او زه په میاعلي صاحب پسې شاته وم، کله چې ثمرخېلو ته راورسېدو نو میاعلي بابا خپل کور ته ننوت، په ننوتو کې یې راته وویل چې مجاهدین له دې ځایه نور مخکې نه شي راتللی په همدې وخت کې له خوبه راویښ شوم له کوره ووتم سهار ورځ تېره شوه بیا شپه شوهو په ثمرخیلو قوي جنګ د مجاهدینو له لورې پیل شو او ډېر دوامداره وو، خو بیا هم بریالي نه شول بیا سید راحت شاه کیسه کوي چې د څو ورځو وروسته خلک له کورو راووتل او د پوستې عسکرو خلکو ته په حیرانۍ وویل چې تاسې څنګه ژوندي یاست!؟

دلته خو بې شمېره مزایل او د هوان مرمۍ راورېدلې، موږ ویل چې دا کلی به د خاورو سره خاورې شوی وي، بیا د کلي خلکو د پوستې عکسرو ته وویل چې دلته خو هېڅ هم نه دي شوي، سید راحت شاه وایي چې فقط یوه د هوان مرمۍ راغلې وه خو هغه هم د میاعلي بابا د زیارت ترڅنګ د یوې ونې په خانښ کې بنده وه چې له چاودېدو مخکې خنثی شوې وه.

شفیق الله نومې کاکا چې تقریبا ۵۵ کاله عمر لري ویې ویل، چې ما پخپلو سترګو د ثمرخېلو په جنګ کې میاعلي بابا سره د خپلو درې ملګرو دشپې مهال د زیارت په ګنبدې ولید چې ولاړ وو او سپین کالي یې اغوستي وو او د دې منفجره مرمیو د راتلو دفاع یې پخپل څادر او امسا کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په ادبیاتو کې د میاعلي صاحب د زیارت یادونه

دا چې د میاعلي بابا زیارت د هېواد په سطحه ډېر مشهور زیارت دی، په خاصه توگه د لېونیانو د لېونتوب د ختمېدو په برخه کې، نو په ډېرو ټپو، سروکو او د غزلونو په بیتونو کې یاد شوی دی، دلته یې څو بېلگې را اخلو:

په ټپه کې د میاعلي بابا یادونه:

زما ازار دې لېونی کړه

چې لاس نیولی دې میاعلي بابا ته وړمه

///

د غزل په بیت کې د میاعلي بابا یادونه:

چې جدا شوی یم له تانه زړه مې وچاودېده

لېونی شوی یم جانانه زړه مې وچاودېده

د خدای لپاره ما میاعلي بابا ته ورسوئ

راسره ځان وتړه گرانه زړه مې وچاودېده

٬٬٬

په سروکي کې د میاعلي بابا یادونه:

اوس مې میاعلي صاحب ته وړینه

وه خوږه جانانه زما چور لېونی شو

٬٬٬

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پایلـــــــــه

ضروري ده چې یو محصل خپل د مونوگراف په لیکنه کې له هنریت څخه کار واخلي،تر څو نور لوستونکي د دې محصل د لیکوالۍ څخه خوند واخلي او ډاډ ترلاسه کړي،چې د تېرې ځلور کلنې دورې زحمت یې په لیکنه کې ادبي ښکلا رامنځته کړې،خو متاسفانه باید ووایم،چې زما مونوگراف داسې کومه هنري زاویه نه لري،ځکه زما مونوگراف د تحقیقي اړخ درلودونکی دی،خو ما بیا هم د خپلې لیکنې هنر کمال ترخپله حده کارولی. ما د میاعلي صاحب پېژندنه او زیارت تر عنوان لاندې مونوگراف کې د هغه ژوند،ملگري،کرامات،اجازې،زیارت،جومات او نورو حاشیوي برخو کې معلومات د خلکو له خولې راجمع کړي دي. بدبختانه په دې اړه کوم لیکلی سند موجود نه وو،نو ځکه مې ټول اقوال او حوالې راجمع کړې، هېره دې نه وي، چې د مونوگراف له پیله ترپایه د قدرمن استاد پوهاند فضل ولي (ناگار) صاحب له نېکو مشورو او ډېر زیار په برخه کې د لا تشویق کولو احسان منندوی او منت بار یم، په پای کې بیا هم دروند استاد پوهاند(ناگار) صاحب ته د سپېڅلي رب د لوی دربار څخه د دواړو جهانونو رحمتونه او نعمتونه غواړم،زه یې د مینې پېرزوینې او مهربانۍ پوروړی یم،په دغه برخه کې یې له ما سره هر ډول همکارۍ څخه دریغ نه دی کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ماخذونه

۱.  میاعلي صاحب د زیارت اړوند تعویذ لیکونکي او خادمان

۲. د میاعلي صاحب اولاده

۳. د میاعلي صاحب د زیارت اړوند ځایي اوسېدونکي

۴. د میاخېل قوم سپین ږیري

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**